AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم
۲۰۲۳/۰۷/۲۷

# د ښوونکو لمانځنه، که د ځان غلطوونه؟

ها بله شپه مې زوی قات کړی کاغذ په لاس راغی، ویې ویل: پلاره، د ښوونکو ورځ ته مې مقاله لیکلې ده، درته ویې لولم؟
ړښتین په پنځم ټولګي کې دی. د مقالې دوې لومړۍ جملې یې داسي وې: «معلم نور ایمان را به لوح جان ما القا میکند. معلم تاریکي های جهالت را با فروغ علم و دانش از فطرت ما میزداید.»
پوښتنه مې وکړه: د دې جملو په معنا پوهېږې؟ لوح جان څه شی دی؟ فطرت څه معنا لري؟
نه پوهېده، مقاله یې له تربیت مجلې راخیستې وه. څه مې وکړه چې د ده فکر راوپاروم چې له خپله فکره مقاله ولیکي. پوښتنه مې وکړه: استادان دې په ړښتیا درباندې ګران دي؟

- هو.
- ولې؟
- ځکه چې درس راکوي، علم رازده‌کوي.
- دا خو یې وظیفه ده، په همدې خاطر معاش اخلي. نجار ته مو پیسې ورکړې، ډېرې ښکلې الماری یې راته جوړې کړې، نو ته ولې د نجار په اړه مقاله نه لیکې.

غلی شو. ومې ویل: ښه نو استادان مو څه رقم درس درکوي، غیر له کتابه نور درسي مواد ورسره راوړي؟

- نه، موږ ته وایي چې درس د کتاب له مخې ووایئ، بیا یې راته تشریح کوي.
- نور داسې شکلونه، رسمونه، نقشې داسې شیان درته نه راوړي.
- نه.

حیران شوم چې څنګه د ده په معلمانو کې یو شی پیدا کړم چې دی ورباندې مقاله ولیکي. ړښتین وویل: ړښتیا یوه ورځ د ساینس معلم د مکتب باغچې ته بوتلو، هلته یې د بوټو ساقه، ریښه او پاڼې راته وښودې.
خوشحاله شوم، ومې ویل: افرین، بس همدا د مقالې خبره ده. همدغه کیسه ولیکه، پخپله مقاله ده. ښه نو، د ساینس استاد مو هر وخت همداسې عملي کار کوي؟

- نه، هماغه یوه ورځ وه. موږ ورته ټینګ شو چې باغچې ته مو بوځي. بیا استاد وویل زه به له اداري اجازه واخلم خو شرط به یې دا وي چې شور به نه کوئ.

فکر مې وکړ چې څه، همدا یوه ورځ هم په دې ارزي چې ښوونکی ورباندې په ښو یاد شي. بیا مې پوښتنه وکړه: ښه نو، داسي کومه بده خاطره له کوم استاده لرې؟
ویې ویل: هو. یوه همصنفي مې ده، هر وخت راته قواره کوي. ما ورته نه کتل، دې به راباندې غږ وکړ چې ړښتینه، وه ړښتینه. ما چې به وروکتل، خوله به یې جینګه کړه. ما استاد ته وویل خو استاد زه جزایي کړم، هغې ته یې هېڅ ونه ویل. زما هېڅ ګناه نه وه خو استاد جزا راکړه.
زوی ته مې وویل: بس همدغه دوه خاطرې دې ولیکه، د معلم په ورځ کې یې ووایه.
شنبه د وږي ۱۳ مه په اکثرو ښوونځیو کې د ښوونکو ورځ لمانځل کېږي. په دې ورځ زیات شمېر شاګردان مقالې لولي، ښوونکي ستایي او معلمان یې فخر کوي، خوشحالېږي خو ټول ځانونه غلطوي. شاګرد داسې جملې لولي چې په معنا یې نه پوهېږي خو استاد ورته چکچکې کوي چې آفرین ښه مقاله دې لیکلې ده. شاګرد له استاده بېزاره دی خو هلته وایي چې معلم راباندې ګران دی، معلم زموږ معنوي مور و پلار دی. استاد هم په دې خبرو تېر ووځي،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ګومان کوي رښتيا به په شاګردانو ګران وي خو يو ځل سر ګرېوان نه ته ورکښته کوي چې رښتيا يې خپله وظيفه سمه اجرا کړې ده؟

مېرمن مې په يوه خصوصي دارالمعلمين کې درس وايي. په ټولګي داسې محصلانې ورسره شته چې د کتاب له مخې هم لا متن نه شي لوستلی خو سبا به ټولې معلمانې شي. بده لا دا چې په دوی کې يوه بېسواده د پوهنې په وزارت کې ډبله واسطه لري. مېرمن مې وايي: «زه پوهېږم چې ټولو نه مخکې به هماغه رسمي معلمه شي.»

مور، هر وخت وايو نن چې هر څه يو، د معلمانو په برکت يو. خو هم ځان غولوو هم نور. زه د خپل مکتب په ټوله دوره کې لږ شمېر داسې معلمان پېژنم چې په لمانځلو ارزي. د عزيز افغان په اووم ټولګي مو د بيولوژي معلمه راضيه چې چونګښه يې راته تسليخ کړه، داخلي غړي يې راوښودل او د ژوو رسمونه به يې راته کښل. د حربي ښوونځي په اتم ټولګي کې مو د پښتو استاد ميرويس خان چې ټول درس به يې پر تختې راته ليکه. ځکه کتابونه نه وو، دی پوهېده چې د پښتو املا سخته ده نو د دې لپاره چې له شاګردانو غلطه نه شي، ټول درس به يې پر تخته ليکه. زما مورنۍ ژبه پارسي ده، پښتو کې مې د کلمو له جنسيت سره ډېره ستونزه درلوده، نه پوهېدم کومه کلمه مذکره ده، کومه مونثه. استاد ميرويس خان ته مې وويل. هغه راته د صديق الله رښتين «ژب ښود» راوړ. دا کتاب مې چې ولوست، تېروتنې مې کمې شوې. په پښتو کې د (ی) ډولونه يې دومره ښه راته تشريح کړل چې تر ننه مې نه دي هېر. بل ښه استاد مو په حربي ښوونځي کې قيوم عسکرزاده د بيولوژي معلم و. وخت په وخت به يې لابراتوار ته بيولو، د انسان سکلېټ به يې ټولګي ته راوړ، د درس خلاصه به يې پر تخته وليکه. ده به ډېر هڅولو. يوه اسانه پوښتنه به يې وکړه او چې چا به ځواب ورکړ، وبه يې ويل: «آفرين، د پاريس شاهزاده»

د ښوونکو ورځ به لمانځو خو صادقانه. ځان به نه غلطوو. زه له دې خبرې سره هېڅ نه يم موافق چې زما بريا زما د استادانو کمال دی، که داسې وای نو ولې نور ټولګيوال مې دې ځای ته ونه رسېدل. په افغانستان کې په ډېرو موردونو کې که شاګرد يو څه زده کوي، د خپل استعداد او زيار په وجه يې وي، نه د استاد له برکته. اکثره استادان خو يوازې درس حفظ کوي او بيا يې د شاګردانو په مخ کې له ياده وايي، ټول کمال يې همدا وي. نه شاګرد فکر کولو ته هڅوي، نه په درسي موادو، شکلونو، رسمونو، موډلونو، نقشو، او عملي کارونو درس ورته آسانه کوي. ښه استادان مو بيخي کم دي.

ځينې خو استدلال کوي چې معلم په دې کم معاش درس ورکوي نو تر دې زياته تمه مه ځنې کوئ. که دا استدلال ومنو، د ملي اردو عسکر مو هم په کم معاش هېواد ساتي، نو دوی دې هم وسله تر سر لاندې کېږدي، کرار خوبونه وکړي چې معاش مو کم دی؟

د ښوونکو ورځ دې مبارک وي خو يوازې هغو استادانو ته چې واقعي ښوونکي دي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ